UNAMA
د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره
د استراتیژیکو اړیکو او ویاند دفتر، کابل، افغانستان
مطبوعاتی بیانیه
http://unama.unmissions.org

## د ملګرو ملتونو د عمومی منشی ځانګړی استازی، ستفان دی میستورا

## د ټول ټاکنو د خپلواکو چارواکو د ګډې وینا څخه هرکلی

**کابل، د نومبر د میاشتی ۱۱ نیټه، کال ۲۰۱۰**- زه د ټاکنو د شکایتونو د کمیسیون او د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له خوا د ننني ګډې اعلامیې هرکلی کوم. دغه اعلامیه په متحد ډول او د ټاکنو د قانون او د افغانستان د اساسي قانون په رڼا کې د انتخاباتي مسآلو د حل په موخه د دواړو خپلواکو کمیسیونونو د بشپړ کار تصدیق کوي. اعلامیه د پایلو د پروسې د پیچلتیا په هکله څرګندونې کوي، او دا هم په ډاګه کوي چې دواړه کمیسیونونه د خپلو حقوقي صلاحیتونو په دننه کې په روڼ ډول د مسالې حل ته ژمن دي.

زه دا تصدیق کوم چې د انتخاباتي شخړو په هکله قضاوت چې د ټاکنو پر پایلو اغیزې کوي، باید د نهایي پایلو څخه وړاندې بشپړې شي. زه دا هم وړاندی تصدیق کوم، چې د افغانستان د ټاکنو دواړو کمیسیونونو بشپړ صلاحیت دی چې د دغو شخړو په هکله د حل په موخه د کوم داخلي ارګان د مداخلی پرته او بهرنی منفعت پرته په آزاد ډول قضاوت وکړي.

په دی هکله زه باور لرم چی د لوی څارنوال دفتر د ټول ټاکنو په اړه تصامیم به د ټول ټاکنو چارواکو ته پریږدي په داسی حال کی چی هغه څیړنیز صلاحیتونو ته چی د ټول ټاکنو د نهادونو په صلاحیتی چوکاټ که نه دی، ادامه ورکړي.

دا بنسټیزه ده چې د کوم ځند نه پرته د ټول ټاکنو دغه پروسه پای ته ورسیږي. زه باور لرم چې د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون او د افغانستان د ټاکنو خپلواک کمیسیون دواړه د پایلو د نهایي کولو په موخه چټک ګامونه واخلي او همدارنګه باور لرم چې دا لړۍ د اساسي قانون او د ملي یو والی له روحیې سره په سمون کې ده.

**Strategic Communication and Spokespersons Unit**
United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA)
Kabul, Afghanistan Tel: 079 000 6121; +39 083 124 6121

http://unama.unmissions.org
Subscribe online to ensure you receive news from UNAMA.